شهسوارسنګروال ٢٠٢۶/٠٣/٢۴

# نکلونو کې تاريخ

## ۸مه کيسه

## په پاکستان کې، دبرېتانيا «۹» کلونه

دهنداوپاکستان له وېش نه وروسته ،په ١٩۴٧ کال دهنداوپاکستان پنوم دوه جلا جلاهېوادونه او حکومتونه ، دبرېتانيا له خوا را مينځته شول ، ولې په پاکستان کې بياهم،برېتاني دتېر په څېرنه کاله نور هم پوځي حضور درلود،چې دپاکستان لپاره نوې اردو اوپوخ وروزي .

په دغه موده کې يو د بل پسي هغه څوک واک ته ورسېدل ، چې د برتانوي هند ګورنرجنرال ته ، ورته وظيفه يې په غاړه درلوده .

دمثال په ډول،محمد علي جناح د١٩۴٧کال داګست له ١۵ مې نه تر ١٩۴٨د سپتمبر تر ١١مې نېټې پورې خپله دنده دبرېتانيا سلاکارانو ترلارښودنې لاندې سرته ورسوله .

خواجه نظا م الدين يوبل واکمن و ،چې د جناح په څېر يې له ١٩۴٨کال دسپتمبر١۴مې نه تر١٩۵١د اکتوبر١٧مې پورې دواک اوځواک څښتن و.

ملک غلام محمد اوسکندر ميرزا هم ،د هغوتېرودوه واکمنو په څېر واک وچلوو، ولې بيا هم په بشپړه توګه يې دبرېتانيا له ګټواوسلاکارانوپرته دځانګړي تصميم نه سونيولی د مستقل عمل جوګه نه ول .

داچې يوشمېرپاکستاني تا ريخپوهان وايي چې په ١٩۴٧ کال پاکستان ازاد شو، داخبره د تامل وړ ده،داځکه چې د پاکستان پنوم کومه سياسي جغرافيه موجود نه وه ،نو له چايې خپله ازادي واخسته ؟

اساسي خبره دا ده ، چې پاکستان دانګريزانوله خوا جوړ شو، چې نيمه خاوره يې له افغانستانه اونوره يې له هنده ولکه کړه ، لکه چې دبرېتانيا صدراعظم چرچل به وېل اوس چې دهند له لوېِ وچې اوځو،موږ يوې موټي خاورې ته ضرورت لرو چې په دغه سيمه کې زموږ ګټې وژغورل شي... اسراييل هم ترهمدې فرمول لاندې په ١٩۴٨ کال رامينځ ته سو . we need a bit of india

انګريزانوپاکستان جوړ کړ، ولې هغه مهال چې غوښتل يې دملګرو ملتوغړيتوب ترلاسه کړي ، د افغانستان استازي ميرزا حسين خان عزيز مخالفه رايه ورکړه او وې وېل پاکستان په پردی خاوره جوړ دی .

دافغانستان ولسمشرمحمد داود چې د ډېورند فرضي کرښې حل ته ژمن و، نوپاکستان کوښښ کاوو، دده پر ضد يوشمېرناراضه بنستپال ، وسله وال اوډده پرضد يې استعمال کړي اوهمداسې هم وشول .

له محمد داود خان وروسته ، کرنيل امام « دافغانستان جهاد...» ترسرليک لاندې کتاب کې وايي،کله چې نورمحمد تره کی واک ته ورسېد اوبيا يې د ناپيلو هېوادونوپه کنفرانس کې چې په کوبا کې جوړ شوی و، له ضياالحق سره وليدل،ناراضي ښکارېده اوکله چې پاکستان ته راغی وې وېل،نورمحمد تره کی دانقلاب په نېشه مست دی .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ

له همغه وخت نه را وروسته چي هرڅوک په افغانستان کي واک ته ورسېدل، پاکستان ترې غوښتل د افغانستان حکومت باید د ډېیورنډ کرښه په رسمېیت وپېژني،ولي هیڅا دغه استعماري کرښه په رسمېت ونه پېژندله !؟

پاکستان دجعلي اسنادو له مخي کوښښ کوي چي نړۍ ته وښيي،چي د ډېیورنډ کرښه ګني په رسمېیت پېژند ل شوې ده .

دوۍ د داډول اسنادوپه لړکي ، دصاحب زاده عبداللطيف قادياني يادونه هم کوي.

عبداللطيف ، اميرعبدالرحمان ته ځان د يوه ستردیني عالم په توګه معرفي کړی واویوشمېرپاکستانیان اوس په جعلي توګه، دامير په استاذولۍ د ډېیورنډ موافقه ليک د دسخط خبرې کوي چي داهم جعلي دي .

حقیقت دادی،چي کله امیر دی وپېژند ،چي دی دانګریزانو جاسوس دی،دغه مهال يي دی له لاسه وتلی و،خواميرنصر ا لله خان اوحبيب الله خان ته وصيت وکړ چي عبداللطيف اود سوات صاحب زاده عبد القيوم د انګرېزانو جاسوسان دی باید جزاورکړ شي .

صاحب زاده عبداللطيف،دامير عبدالرحمان له مرګ نه وروسته فکر کاوو چي حبيب الله خان دده له هڅوخبر نه دی،نوبیا يي دتېر په څېر غوښتل خپلي وظيفي ته دوام ورکړي ،ولي امير حبيب ا لله خان دی ونېواودغه قادياني صاحب زاده يي سنګسار کړاو اوله تيګه اوډبره ده پرې ګوزار کړه اوجهنم ته يي وسپاره .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ